# دملا سره جنگ

زه که شراب څکمه خپل غمونه هیروم
له عقله چی پردی شم اوښکی نور نه تویوم
ملا راته وایی شراب مځکه کافر کیږی
دهغه اعمال چی گورم ډک جامونه تشوم
خپل افعال ته نه گوری نصیحت کوی ماته
هغه له ریا ډک دی غوږ نصیحت ته نه نیسم
زه نه غواړم چی لاړ شم هغه سره جنت ته
پر خلک وطن دوزخ کړ خپل لار تری بیلوم
محراب او له چوکی نه کړی ظلمونه پر خلکو
زه هم هغه ربړونه دخپل خلک نه هیروم
هیڅکله دحق بین ملا نه یمه بد بین
دملا مشک عالم نوم په حرمت تل یادوم
دچوکی دا ملایان ټول اجیر پاکیستانیان دی
زه (مل)ځکه دهغو خیری هرچاته لوڅوم

**********

پوهندوی دوکتور سید حسام مل
اوگست کال دوه زره اوه
جرمنی

www.ayenda.org